دغه قانون د اپلیکېشن پر بنسټ تر پوښښ لاندې نیول شوي کارکوونکي خوندي کوي پرته له دې چې د هغوی د کډوالۍ حالت په پام کې ونیول شي.

تر پوښښ لاندې د شبکه يي شرکتونو باید دا قانون مراعات کړي. غچ اخیستنه غیرقانوني ده. د 2025 د جنوري له 1 نېټې د پلي کېدو وړ دی.

Seattle Office of Labor Standards

# د اپلیکېشن پر بنسټ کارکوونکو د لغوه کېدو حقوقو مقرره (App-Based Worker Deactivation Rights Ordinance)

# SMC 8.40 د حقونو خبرتیا (Notice of Rights)

## د 2025 د جنوري له 1 نېټې د پلي کېدو وړ دی

## تاسو تر پوښښ لاندې یاست که چېرته:

- ستاسو لږ تر لږه 25% بشپړ شوي یا د دلیل له مخې لغوه شوي وړاندیزونه د غیرفعال کېدو نه وړاندې 180 ورځو کې د سیاټل په ښار کې د یو پوښښ لرونکي شبکې شرکت لپاره ترسره شوي وي **یا**
- ستاسې غیر فعال کېدل د داسې پېښې یا پېښو له امله وو چې د سیاټل په ښار کې د یوې پوښل شوې شبکې شرکت لپاره د خدمتونو د ترسره کولو پر مهال رامنځته شوې وې.

**ټول هغه کارکوونکي چې د اپلیکېشن پر بنسټ پلېټفارمونه د کار لپاره کاروي، د دې قانون تر پوښښ لاندې نه دي. د نورو معلوماتو لپاره دا ځای سکن کړئ:**

https://www.seattle.gov/laborstandards/ordinances/app-based-worker-ordinances/app-based-worker-deactivation-rights-ordinance

**د سیاټل د اپلیکیشن پر بنسټ د کارکوونکو مقررات د ترانسپورټ شبکې شرکتونه (رایډشیرر) موټرچلوونکي تر پوښښ لاندې نه راولي.**

# د اپلېکېشن پر بنسټ پوښل شوي کارکوونکي په توګه تاسو حق لرئ چې:

- د غیر فعالېدو د پالیسی منصفانه خبرتیا ترلاسه کړئ، چې پکې به دا تشریح شوې وي چې کومې کړنې د غیر فعالېدو سبب کېدای شي او د غیر فعالېدو د مخالفت لپاره کومه طریقه یا لاره موجوده ده.
  - د غیر فعالېدو پالیسي باید د شرکت له خوندي او اغیزناک فعالیت سره منطقي اړیکه ولري.
- د غیر فعالېدو پر وړاندې د شبکه یي شرکت د دننې اعتراض د کړنلارې له لارې اعتراض وکړئ، پرته له دې چې د غیر فعالېدو سبب شوې پېښه په کوم ځای کې رامنځته شوې وي.
- د غیر فعالېدو نه مخکې باید 14 ورځو خبرتیا درکړل شي، پرته له دې چې د سختې سرغړونې پېښه وي یا دا چې قانون دا غوښتنه وکړي، چې په دې صورت کې شرکت کولای شي سمدلاسه تاسې غیر فعال کړي.
  - په خبرتیا کې باید د غیر فعالېدو دلیل یا دلایل ذکر شي، په شمول د هغو مشخصو پېښو چې د شرکت پالیسي یې نقض کړې ده او باید ټول اسناد او سوابق درسره شریک شي چې د شبکې شرکت پرې تکیه کړې او ستاسو د غیر فعالېدو پرېکړه یې پرې کړې ده.

## شبکه یي شرکتونه:

- تاسو د «بې‌دلیله» غیر فعالېدو سره مخ کولای نشي، په شمول د داسې غیر فعالېدو چې موخه یې تبعیض وي یا تبعیضي پایله ولري.
- شرکت مکلف دی چې تر غیر فعال کولو مخکې دا ادعاوې وڅېړي چې ګوندې تاسې د شرکت پالیسی نقض کړې وي او باید دا وښیي چې ډېر احتمال شته چې تاسې پالیسی نقض کړې وي.
- شرکت باید د غیر فعالېدو اړوند قواعد، پالیسی او سزاوې په یو شان او ثابت ډول تطبیق کړي.
- شرکت یوازې هغه وخت کولای شي تاسې غیر فعال کړي چې دا پرېکړه له سرغړونې سره منطقي تړاو ولري او باید ستاسو د کار شرایط هم په پام کې ونیسي.

- شرکت کولای شي تاسو سمدلاسه غیر فعال کړي تر څو له قوانینو، مقرراتو سره سمون ولري یا د سختي سرغړونې له امله.
- شرکت مکلف دی چې یو داسې سیستم جوړ کړي چې له تاسو سره مرسته وکړي پوه شئ چې آیا تاسې د دې مقرره لاندې راځئ که نه.
- شرکت باید تاسو ته دا د حقونو خبرتیا په انګلیسي او ستاسې په معلومه اصلي ژبه د ځیرک ټلیفون اپلیکیشن، برښنالیک یا انلاین ویب پورټل له لارې چمتو کړي.

## خپل حقونه وپېژنئ

### غچ اخیستنه منع ده

تاسو حق لرئ چې د پورته ذکر شویو حقونو د ترلاسه کولو یا عملي کولو له امله له هر ډول غچ اخیستنې (منفي چلند) څخه خوندي وئ.

### د شکایت کولو حق

تاسې دا حق لرئ چې د شرکت د دنني اعتراض د کړنلارې له لارې د خپل غیر فعالېدو تر ننګولو وروسته، یا د کار د معیارونو دفتر (Office of Labor Standards) سره شکایت وکړئ یا محکمې ته عریضه وکړئ.

**د 2027 کال د جون له 1 نېټې مخکې به OLS محدود صلاحیت ولري تر څو په دې قانون کې ځینې حقونه پلي کړي. د نورو جزئیاتو لپاره دا ځای سکن کړئ:**

https://www.seattle.gov/laborstandards/ordinances/app-based-worker-ordinances/app-based-worker-deactivation-rights-ordinance

کارکوونکي کولای شي د هغو حقونو لپاره چې د OLS لخوا لا نشي پلي کېدای، له نورو لارو د حق اخیستو هڅه وکړي.

# OFFICE OF LABOR STANDARDS :اړیکه

## شبکه يي شرکتونه

تخنیکي مرسته او/ یا روزنه
ترلاسه کړئ

## د اپلکیشن پر بنسټ کاریګر

له OLS سره شکایت ثبت کړئ او یا په محکمه
کې صورت دعوا پرانیزئ

**206-256-5297**

**www.seattle.gov/laborstandards**

**Seattle** Office of Labor Standards


810 Third Ave, Suite 375
Seattle, WA 98104
ساعتونه: سهار 8:00 - مازدیګر 4:00 (دوشنبه-جمعه)
LABORSTANDARDS@SEATTLE.GOV


د کار د معیارونو دفتر په متفکرانه ډول د تولنې او سوداګرۍ د ګډون، د نوښتيزو پالیسیو د پلي کولو پراختیا له لارې او نژاد او ټولنیز عدالت ته په ژمني سره د کار د معیارونو لوړول دي.

د کار د معیارونو دفتر لیکلي ژباړې، شفاهي ژباړه او معلولیت لرونکو اشخاصو ته آسانتیاوې چمتو کوي.